اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

## د آذان برکتونه

**دُعائے عطّار:** یا ربّ مصطفٰی! عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوك چې دا رِساله "دَ آذان برکتونه" اولولي يا ئې واوري هغه ته په جنّت الفردوس کښې د مؤذِّنِ رسول حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ګاونډ نصيب کړې.

اٰمین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

د **اللّٰه** پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد مُبارك دے: چا چې د قرآنِ کريم تِلاوت اوکړو، د **اللّٰه** پاك حَمد ئې بيان کړو او په نبي باندې ئې دُرُود شريف اولوَستلو او د خپل **ربّ** نه ئې بخَښنه طلب کړه نو هغه خير د هغې په ځائے کښې اوموندلو. (شعب الایمان،۲/۳۷۳،حدیث۲۰۸۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ ظالِم افسر عبرتناك انجام (حکايت)

د يو تاجر (بزنس مين) په يو سرکاري اَفسر باندې ډير مال قرض وُو. هغه به چې کله هم مطالبه کوله، افسر به حِيلے بَهانے اُوکړې او تاجَر به ئې واپس کړو. تاجر چې کله اُوکتل چې زما مال نه راکوي نو لويو لويو افسرانو ته بلکه وزير ته ئې هم شکايت اُوکړو، خو د هغه مال واپس نه کړے شو. اوس صرف خليفهٔ وقت ته شکايت کول پاتې وو، خو دا کار آسان نه وُو. يوه ورځ د تاجر يو ملګري اُووئيل: راځه! زه تا يو داسې کس له بوځم چې هغه به تا له د هغه نه

مال واپس واخلي او تا ته به خليفه ته د شکايت کولو ضرورت پيښ شي. بيا زه هغه يو دَرزِي (ټيلر) له بوتلم چې هغه په خواته جُمات کښې "اِمام" هم وُو. زما ملګري زما پريشاني هغه ته بيان کړه، نو هغه اِمام صاحِب فوراً زمونږ سره د افسَر کور طرف ته روَان شو، تاجر هغه خپل ملګري ته اُووئيل: تا زه او خپل ځان او دا غريب درزِي په مشکل کښې واچولو. هغه ظالم اَفسر خو د غټو غټو خلقو په خبرو باندې غوږ نه کَروِي، د وزِير د سفارش نه هم اُونه يريدو، نو د دې غريب درزِي خبرې ته به څه اهميّت وَرکړي؟ زما ملګرے مُسکے شو او اُوئې وئيل: ته صرف خاموشۍ سره ګوره چې څه کيږي؟ څنګه چې مونږه د هغه ظالم افسر کور ته اُورسِيدو نو د هغه غلامانو ډير په ادب سره د درزِي لاسونه ښکل کړل او تپوس ئې اُوکړو: عالي جاه! ستاسو د تشريف راوړَلو څه مقصد دے؟ زمونږه مالك اوس اوس د سفر نه راغلے دے، که تاسو حڪم کوئ نو اوس به ئې فوراً حاضِر کړو او که تاسو غواړئ نو دننه کمرے ته تشريف راوړئ او د خدمت موقع راکړئ. مونږ دننه لاړو او په يوه ښکلي کمره کښې کښيناستلو، لږ ساعت پس هغه افسر راغے او درزِي ئې چې اولِيدلو نو په ډير ادب او احترام ئې عرض اُوکړو: زه اوس اوس د سفر نه بيرته رارسيدلے يم، خو زه به د هغې پورې د سفر جامے بدلې نه کړم تر څو چې ستاسو د راتلو مقصد پوره نه کړم، حُڪم اُوکړئ زه ستاسو څه خدمت کولے شم؟ اِمام صاحب زما طرف ته اشاره اُوکړه او اُوئې فرمائيل: ده ته خپل مال فوراً واپس کړه. اَفسر اُووَئيل: عاليجاه! اُوس زما سره پينځه زره درهمه دي، اُوس تاسو ده ته اُوفرمائئ چې في الحال دا رقم قبول کړي. او د باقي مال د پاره دِ زما د تجارت سامان په ضمانت کښې کيږدي، زه به په يوه مياشت کښې دننه ده ته خپل رقم واپس کړم. درزِي (امام صاحب) زما طرف ته اوکتل نو ما فوراً د هغه شرط قبول کړو او بيا مونږ واپس راغلو. زه د خپل حق په ملاويدلو باندې ډير خوشحاله وُوم او حيران هم وُوم چې خُدائے خبر په امام صاحب کښې داسې څه طاقت دے چې د هغې په وجه پرې دا ظالِم افسر هُم دومره مهربانه شو او دُومره په احترام ئې ورسره

ملاقات اوکړو. چې واپس راغلو نو ما خپل ټول سامان د امام صاحب په دُکان کښې کېښودو او عرض مې اُوکړو: **اللہ** پاك ستاسو په برکت ما ته زما ټول مال بیرته راکړو، زه د زړه په خوشحالئ څه مال تاسو ته په تحفه کښې دَرکول غواړم، تاسو په دې کښې دریمه حصه یا نیم مال قبول کړئ. امام صاحب اُووَئیل: زه د دې نه هیڅ هم نه اخلم. لاړ شه! **اللہ** پاك دِ تا ته په دې کښې برکت درکړي. ما عرض اُوکړو: جناب! زما تاسو سره یو بل کار هم دے. هغوئي اُوفرمائیل: اُووَایه. ما عرض اُوکړو: په دې ظالِم افسر خو د لویو لویو افسرانو هُم وَس نه کیدلو، خو ستاسو خبره ئې فوراً اُومَنله، آخر هغه ستاسو دومره عزّت ولې کوي؟ امام صاحب اُوفرمائیل: ستا مال تا ته مِلاو شو، څه لاړ شه! خپل کار کوه او ما هُم خپل کار ته پریږده. ما چې کله ډیره زاري اُوکړه نو اِمام صاحب خپله واقعه داسې بیان کړه چې زه په دې جمات کښې خلقو ته د څلویښتو کالو نه لـمونځونه کووم او دې سره سره د دَرزِي ټُوب (یعني د ټیلرئ) کار هم کووم. زمونږ د کور په لاره کښې د یَو افسر کور دے. یوه ورځ چې ما اُوکتل نو هغه افسر د نشے په حالت کښې یوه زنانه نیولې وه او خپل کور طرف ته ئې راښکله، هغې د بے وسئ په حالت کښې د مدَد د پاره چغې وَهلې، خو هیڅ څوك هم د هغې خواه ته نه وَرتلو. هغې په ژړا ژړا کښې داسې وئیل: زما خاوند قسم کړے دے چې که ما د هغه د کور نه علاوه بل چرته شپه اُوکړه نو هغه به ما ته طلاق راکوِي. که دا ظالم ما ځان سره بوځي نو زما کور به برباد شي او زه به رُسوا شم، د خدائے د پاره ما د دې ظالم نه خلاصه کړئ. زه د ایماني جذبے په وجه هغه ظالم ته ورنزدے شوم او ورته مې اُووئیل چې زنانه پریږده نو هغه د اُوسپنې په ډنډه زما سر اُووهلو او یوه څپیړه ئې هُم راکړه او اُوئې زغلولم، زه په زخمي حالت او غم او پریشانئ کښې خپل کور ته راغلم او په زخم مې پټئ اُوتړله او د څه وخت آرام د پاره څَملاستم. بیا د ماسخُتن لـمانځه له جمات ته لاړم او د لـمانځه نه پس مې ټولو لمُونځ ګزارُو ته د هغه ظالم افسر هغه حرکت بیان کړلو او ورته مې اُووَئیل چې: تاسو ټول ما سره لاړ شئ! یا خو به هغه زنانه

پرېږدي او که نه ئې پرېښودله نو مقابله به ورسره کوو. خلقو زما د خبرې تائيد اُوکړو او مونږ د هغه د کور طرف ته روان شو. هلته چې لاړو نو مونږ هغه نه د زنانه د پرېښودلو مطالبه اُوکړه نو د هغه ظالم افسر نوکرانو په مونږ باندې د ډنډو حمله اُوکړه، خلقو زه يواځې پرېښودَم او اُوتَښتيدل، زه يو څو غلامانو اُونيوَلم او ښه ئې اُووَهلم او ډير زيات ئې زخمي کړم. زما يو ګاونډي زه کور ته اورسوَلم . د کور خلقو مې په زخمونو باندې پټئ اُوتړلې، سترګې مې پټې شوې، خو لږ ساعت پس مې دَردُونه زيات شو نو د هغې په وجه مې سترګې اُوغړيدلې. او دا سوچ مې کولو چې هغه عاجزه زنانه به په څه طريقه د هغه ظالم نه بچ کړے شي، چرته کور ئې برباد نه شي. بيا ناڅاپه خيال راغے چې هغه ظالم خو هسې هُم شراب څښلې دي د وخت نه خو به نه وي خبر، که زه اوس لاړ شم او اذان اُوکړم نو هغه به وائي چې سَحَر شو او هغه زنانه به پرېږدي، نو په دې طريقه به د هغې خوارې کور بچ شي. په دې خيال په [ډير تکليف کښې] په لويدو لويدو جمات ته لاړم او مينارے ته اُوختلم او په اوچت اواز مې اذان اوکړو او د هغه ظالِم د کور طرف ته مې کتل شروع کړل. لږ ساعت پس سړک د اسونو او سپاهيانو نه ډک شو. سپاهيانو په اُوچت آواز وئيل: په دې وخت دا اذان چا اُوکړو؟ اول خو زه خاموش وُوم خو بيا مې دا سوچ اُوکړو چې کيدے شي دا سپاهيان د دې زنانه په راخلاصولو کښې زما مَدد اُوکړي، ما ورته اُووَئيل چې: اذان ما کړے دے. سپاهيانو اُووَئيل: زر راکوز شه ته خليفه غوښتے ئې. سپاهيانو زه د خليفه دربار ته بوتلم. خليفه په ډيره شفقت [مهربانئ] څان سره کښينولم او تسلّي راکول ئې شروع کړه، تر دې پورې چې زما ويره ختمه شوه او زه بالکل مطمئِن شوم نو هغه زما نه تپوس اُوکړو: ته چا مجبوره کړے ئې چې د وخت نه مخکښې آذان اُوکړه او مسلمانانو له دُوکه وَرکړه؟ لږ سوچ اُوکړه چې مُسافر به ستا د اذان په اوريدَلو دُوکه اوخوري او په سفر به روان شي،روژه نيولو والا به خوراك څښاك بند کړي حالانکه د پيشمني وخت لا پاتې دې. ما په ويره ويره اُووَئيل: که تاسو ما ته د څان آمان راکړئ نو زه عرض کوَل غواړم؟

خليفه راته اُووَئيل: تا ته امن درکړے شو، وايه. بيا ما د هغه ظالم اَفسر او زنانه واقعه خليفه ته بيان کړه او خپل زخمونه مې هُم ورته ښکاره کړل. خليفه غُصَّه شو او سپاهيانو ته ئې حکم اُوکړو چې اوس په دې ساعت هغه ظالم افسر او هغه زنانه زما په دربار کښې حاضر کړئ. په لږ ساعت کښې سپاهيانو هغه ظالم اَفسر او هغه زنانه د خليفه په دربار کښې حاضر کړل. خليفه زه يوے کمرے ته اُولېږلم او د زنانه نه ئې د حقيقتِ حال په باره کښې تپوس اُوکړو نو هغې ورته هُم هغه څه اُووَئيل، څه چې ما وَئيلي وو. خليفه يو څو قابلِ اعتمادې زنانه او سپاهيان د هغې زنانه سره د هغې د کوره پورې اُوليږل. بيا خليفه زه رَا اُوبلَلم او د هغه اَفسر نه ئې تپوس اُوکړو: وايه! تا ته څومره تنخواه ميلاويږي؟ وايه! تا ته د کاروبار نه څومره ګټه کيږي؟ ستا سره څومره وينزې دي؟ ستا سالانه آمدن څومره دے؟ ظالم اَفسر چې د خپل ډېر زيات آمدن او وِينزو مُتَعَلِّق اُووئيل نو خليفه ورته اُوفرمائيل: د دُومره نعمتونو ملاويدلو باوجود هُم تا د خپل پروردګار، خدائے قَهَّار و جبّار نافرماني کړي ده. آيا ستا د پاره حلال څيزونه کافي نه وُو؟ چې تا حرامو ته لاس واچولو. زه به اوس تا ته دردناکه سزا درکړم. بيا د خليفه په حکم هغه ظالم اَفسر په ډېر دردناك عذاب مړ کړے شو. اِمام صاحب اُوفرمائيل: ټولو افسرانو، او وزيرانو دا منظر کتلو. هغه افسر چې په چا باندې ستا مال وُو هغه هم هلته موجود وُو. خليفه ما ته اُووئيل: يا شيخ! زمونږ په دې ملك کښې چې کوم څائے کښې تاسو بد اُووِينَئ، يا يو ظالم په ظُلم باندې اووِينَئ نو هغه منع کړئ، که هغه هر څوك وي. بيا ئې يو لوئ افسر طرف ته اِشاره اُوکړه او اُو ئې وئيل: اګر که دا لوئې افسر وي او که څوك ستاسو خلاف جُرأت اُوکړي او ستاسو خبره اُونه مني نو فوراً ما ته اِطلاع کوئ، زما او ستا په مينځ کښې به ''اذان'' نښه وي. ته د وخت نه مخکښې اذان کوه نو زه به پوهيږم او ستا د آواز اوريدلو سره به ستا مدد ته درځم. چې سَحَر شو نو دا خبره په ټول ښار کښې خوره شوه او هر خاص او عام ته زما د اختياراتو خبر اُوشو، د هغه ورځې نه واخله تر نن ورځې پورې داسې کله هم نه دي شوي چې ما به چا ته

انصاف وَرکړے وي او هغه ته به انصاف نه وي ملاؤ شوے. د خلیفه د ویرې نه هر کس زما خبره فوراً مني. تر اُوسه پورې د وخت نه مخکښې د اذان کولو موقع نه ده راغلې. دا ئې اُووئیل او هغه درزي په خپل کار کښې مصروف شو او زه خپل کور ته روان شوم. (عیون الحکایات)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اُولیده؟ د ظلم انجام څومره خطرناك وي. بُخاري شریف کښې دي: نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: بے شکه **الله** پاك ظالم ته مُهلت وَرکوِي تر دې پورې چې کله هغه اونیسي نو بیا ئې نه پریږدي. چې دا ئې اُوفرمائیل نو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دولسمې سیپارے د سورهٔ **هُود** آیت نمبر**۲** تلاوت کړو:

وَ كَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَاۤ اَخَذَ الْقُرٰى وَ هِیَ ظَالِمَةٌ ؕ اِنَّ اَخْذَهٗۤ اَلِیْمٌ شَدِیْدٌ ﴿۱۰۲﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او هم دغه شان نِیوَل دي ستا دَ رَب چې کله نِیسي استوګنې [یعني کلي] د هغوئي په ظُلم باندې، بے شکه د هغه نِیوَل ډیر سخت او درد ناك دي.

ہمیشہ ہاتھ بھلائی کے واسطے اُٹھیں بچانا ظُلم وسِتَم سے مجھے سَدا یارب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د دې واقعې نه د ظالم د ظلم انجام هُم معلوم شو او د "اذان" بَرَکت هُم معلوم شو چې د اذان په برکت د ظلم خاتمه هُم اُوشوه او اذان بادشاهِ وقت ته د یو عام کس د رسیدلو ذریعه هُم جوړ شو بلکه دومره لوئ اختیار ورکړے شو چې هغه د ملك نه جرمونه ختم کړل۔

## دَ ټولو نه مخکښې آذان چا کړے وو؟

دَ اذان لُغوِي مَعني ده: خبرداره کوَل. آیا تاسو ته معلومه ده چې د ټولو نه ورومبے اذان چا کړے و؟ راځئ چې زه دَرته اُووَایم، حضرت جبریل امین عَلَیْہِ السَّلَام د معراج په شپه په بیت المُقَدَّس کښې (د ټولو نه مخکښې اذان) کړے وو، [هغه وخت] چې کله نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټولو انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام ته [د لمانځه] جَمعه ورکړه، خو په مُسلمانانو کښې د هِجرت

نه پس وړومبۍ هجرۍ کښې اذان شروع شو. (مراٰة)

## حضور ﷺ يو ځل اذان کړے دے

نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځل په سفر کښې اذان کړے وو او د شهادت کلمات ئې داسې فرمائيلي وو: اَشْهَدُ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ ”زه ګواهي وَرکووم چې زه د الله پاك رسُول يَم.“ (فتاوٰي رضويه)

## په مېناره باندې د ټولو نه اول اذان وركوونكے

په ښار کښې د ټولو نه وړومبے په مِيناره باندې اذان ويُوونکے حضرت شُرَحْبِيل بن عامر مُرادِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وُو. (الحديقة النديه)

## دَ ويَرې په وَخت کښې اذان

په يو روايت کښې دي: چې کله آدَم عَلَيْهِ السَّلَام هندُوستان ته رَاکوز شو نو بے قراره [يعني پريشانه شو] نو جبريل عَلَيْهِ السَّلَام راکوز شو او اذان ئې اوکړو. (حلية الاولياء، حديث)

## ذِکرِ اِلٰهي د رحمت نازليدلو باعث دے

اعلٰي حضرت، امامِ اهلِسنّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اذان ذِکرِ الٰهي دے او ذکرِ اِلٰهي د رَحمت نازليدلو باعِث دے. (فتاوٰي رضويه ملتقطاً)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** يقيناً چې د الله پاک رَحمت نازِليږي نو بَلاګاني، آفتُونه، مُصِيبتونه، بيمارۍ، پريشانيۍ لرې کيږي. چنانچه حديث پاك کښې دي: حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اُوفرمائيل: اے علي! زه تا غمګين وينم، د خپل کور کوم کس ته اُووَايه چې ستا په غوږ کښې اذان اُوکړي، اذان غم او پريشاني لرې کوي. (جامع الاحاديث، حديث) دا روايت نقل کولو نه پس اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ”فتاوٰي رَضَوِيَّه شريف“ جلد 5 صفحه 668 کښې فرمائي: مولٰى علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او مولٰى علي پورې چې څومره

د دې حديث رِوَايت کوونکي دي ټولو فرمائيلي دي: **فَجَرَّبْتُهُ فَوَجَدْتُهُ** (مونږ د دې تجربه اُوکړه نو هم دغه شان مو اوليدله)

## آيا اذان لمُونځ سره خاص دے

بعضې خلق دا ګمان کوي چې اذان صرف لـمانځه د پاره وَئِيلے کيږي او د دې نه علاوه ئې ګنې په بَله موقع نه شي وَئيلے، دا خبره صَحِيح نه ده، اُوس چې کوم روايت بيان کړے شو چې آدم عَلَيْهِ السَّلَام د آسمان نه زمکې ته تشريف رَاوړلو نو د هغوئې بے قراري او پريشاني لرې کولو د پاره جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام چې کوم اذان اُوکړو هغه د لـمانځه د پاره نه وُو دغسې چې کله نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ غمګين اُولِيدو نو اُوئې فرمائيل: چې د خپل کور کوم کس ته اُووَايه چې ستا په غوږ کښې اذان اُوکړي، نو دغه اذان هم د لمُونځ د پاره نه وُو. او د شافعيانو په کتابونو کښې دي چې د لمُونځ نه علاوه مطلقاً په دې موقعو باندې اذان وئيل سُنّت دي. (تحفة المحتاج لابن حجر هيتمي)

## دَ لمُونځ نه علاوه دَ اذان وَئيلو يو څو موقعې

د اذان اصلِ وَضع (يعني اِيجاد) خو دَ لمُونځ د پاره وو خو بيا په نورو موقعو باندې هم استعمال شو. ياد ساتئ! اسلام په ډيرو موقعو باندې اذان وَئَيل مُستَحسَن (يعني خوښ) ګڼړلې دِي د هغې نه يو څو ځايونه دا دِي: (۱) د ماشوم د پيدائش په وخت کښې په ښي غوږ کښې اذان او ګڅ غوږ کښې اِقامت وَئيل سُنّت دي، (۲) چرته چې د پيريانو اثَر وِي هلته هم اذان وئيلے کيږي، (۳) کله چې د سورلئ څناور سَرکشي کوي. (٤ تا ۷) د بد مزاجه سړي يا څناور په غوږ کښې، د غمګين، د مِرګُو د مريض او د غصّه شوي کس په غوږ کښې (۸) د اور لګيدلو په وخت کښې (۹) د لارې ورَکيدَلُو په وخت کښې (۱۰) د وَبا (يعني بيمارئ) خوريدَلو په وخت کښې (۱۱) د مړې خخيدلو نه پس. (نُزهة القاري، بهارِ شريعت، حصّه)

حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اذان موقعې د عربئ په شعر کښې داسې

بيان کړے شوي دي- د دې زباني يادولو سره د اذان وئيلو ځايونه ياد ساتل آسانيدے شي.

فَرْضُ الصَّلٰوۃِ وَ فِیْ اُذُنِ الصَّغِیْرِ وَ فِیْ وَقْتِ الْحَرِیْقِ وَ الْحَرْبِ الَّذِیْ وَقَعَا
خَلْفِ الْمُسَافِرِ وَ الْغِیْلَانِ اِنْ ظَھَرَتْ فَاحْفَظْ لِسِتٍّ مِنَ الَّذِیْ قَدْ شَرَعَا
وَ زِیْدَ اَرْبَعٌ ذُوْھَمٍّ وَ ذُوْغَضَبٍ مُسَافِرٌ ضَلَّ فِیْ نَفْرٍ وَمَنْ صَرَعَا

د فرض لـمونځ د پاره، د ماشوم په غوږ کښې، د اُور لګيدلو په وخت کښې، چې کله سخت جنګ وي، د مسافر تللو نه پس، د پيريانو ښکاره کيدلو نه پس، لاره هيريدونکي د پاره او د مِرګي مريض د پاره. (جاءالحق، صر۱۲)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ کُرونا وائِرس مَرِيضانو سره دَ اِظهارِ همدَردئ د پاره

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! دَ تيرو يو څو مياشتو نه پاکِستان سَره سَره د دنيا په ډيرو مُلکونه کښې يوے موذِي بيمارئ ''کرونا وائِرس'' خلق په ويره کښې اخته کړي دي، تر اُوسه پورې چې څومره عاشقانِ رسول د کرونا وائرس په سبب وفات شوي دي **الله** پاك دِ د ټولو عاشقان رسول بےحسابه بخښنه اوکړي او د هغوئي د کور خلقو ته دِ صَبر او په صبر باندې ډير اجر ورکړي. د **الله** پاك په بارګاه کښې دُعا ده چې د کرونا وائرس نه متاثره شوي چې څومره عاشقان رسول په دنيا کښې په هر ځائے کښې په هسپتالونو، کورونو وغيره کښې بند (کُورَنټائن) وي د هغوئي په حال دِ د رحمت نظر اُوکړي او هغوئي له دِ د نيکئ، عبادتونو، رياضتونو، او د دعوتِ اسلامي په ديني کارونو کښې تيرلو والا اُوګږد عمر ورکړي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دَ امیرِ اهلِسُنّت د عُلمائے اهلِسُنّت په حکم باندې طرزِ عمل

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَمیرِ اَهلِسنّت په ۹ رَجَبُ الْمُرَجَّب ۱۴۴۱ ھ ځه داسې اعلان اُوفرمائیلو چې د اُمَّت د خیر او د کرونا وائرس د ختمیدلو د پاره علمائے اهلِسنّت د شپې لَس بجے په کورونو کښې دَ اذان وئیلو حکم فرمائیلے دے، زه هم دا نیّت کووم چې اِنْ شَآءَاللّٰه! روزانه به اذان کووم، په دنیا کښې ټول عاشقانِ رسول (د حالاتو پیشِ نظر) په خپلو کورونو کښې اذان کوئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د اذان آواز چې د کوم ځائے پورې رسي [د هغه ځائے] هر څیز د مَغفِرت دُعا کوي، اذان سره د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت رحمت نازلِیږي، آفتونه، او وباګانې لرې کیږي، شیطانان او سرکشه پیریان تښتي، غم او پریشاني لرې کیږي او زړونو ته راحت [یعني سکون] ملاویږي. د شپې یا په داسې وخت کښې چې اَورِیدُونکو ته د لـمانځه د اذان شك نه کیږي، په کورونو کښې اُودو خلقو ته یا مریضانو وغیره ته تکلیف نه رسي د دې خبرو خیال ساتلو سره چې په کوم ځائے کښې ئې د هُم هغه ځائے نه مثلاً کور، دکان، دفتر، فیکټرئ وغیره او مُـؤَذِّن صاحبان دِ د خپلو جماتونو نه په اوداسه کښې مخ په قبله په ولاړه باندې د دُرُود و سلام نه پس د اذان وئیلو سعادت حاصلوي چې اللّٰه پاك د دې په برکت کرونا وائرس او نورو آفتونو او مصیبتونو نه د خپل محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غمخوار امّت ته نجات ورکړي.

زمانے کے مصائب نے الٰہی گھیر رکھا ہے | پئے شاہِ مدینہ دور ہوں رنج و الم مولیٰ
رسولِ پاک کی دُکھیاری اُمّت پر عِنایت کر | مریضوں، غمزدوں، آفت نصیبوں پر کرم مولیٰ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پریشانئ نه دَ نجات د پاره اذان وئیل سنّت دي

حضرت علّامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: د مُصیبت او پرِیشَانئ نه د نِجات د پاره اَذان وَئِیل سُنّت دي. (مرقاۃ،۲/۳۶۵)

دَ کرونا وائرس خوَریدلو په دې دوران کښې هُم د دې مُصِیبت او پریشانئ نه د خلاصې د پاره ډیر ډیر اذانونه کوئ، هیڅ لرې نه ده چې د دې ذِکرِ الٰهي په سبَب داسې رَحمتِ اِلٰهي را اُووَرِیږي، داسې رحمتِ اِلٰهي را اُووَرِیږي، داسې رَحمتِ الٰهي را اُووَرِیږي چې صرف کرونا وائرس نه بلکه دا کورونا ځان سره نورې هُم ډیرې بیمارئ یوسي او زمونږ نه لرې شي.

اعلٰي حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه نه په فتاوٰي رَضَوِیَّه جلد 23 کښې یو تپوس شوے وو، زه هغه سوال او جواب په آسانو الفاظو کښې بیانووم.

سوال: عُلمائے دین د دې مسئلے په باره کښې څه وائي چې خلق د بیمارئ او مصیبتونو خورِیدَلو په وخت کښې او د طُوفان او سِیلئ وغیره په وخت کښې اذان وائي، دا کار شرعاً جائز دے او که نه؟..

جواب: جائز دے او د جائز کیدلو د پاره په حدیث مبارك کښې دي چې: د ذکرِ الٰهي نه علاوه بل هیڅ خیز د **الله** پاك د عذاب نه بچ کولو والا نشته. بیا چې کله تاسو د **الله** پاك عذاب اُووِینَئ نو په داسې حالت کښې د **الله** پاك د ذِکر په ذریعه پناه حاصِله کرِئ.

او په قرآنِ کریم کښې **الله** پاك اِرشاد فرمائي:

أَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴿۲۸﴾ (پ۱۳، الرعد:۲۸)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: خبردار د **الله** پاك په ذکر کولو زړونو ته سکون ملاویږي.

(فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج ۲۳، ص ۱۷۴)

ہر سُو ہوں جب وباؤں کے سائے، اذان دو
دُنیا مریض ہو تو دوائے اذان دو
طوفاں کو موڑنے کی توانائی اس میں ہے
گردِش کبھی جو آنکھ دِکھائے اذان دو
پھر بجلیاں نہ برسیں گی فیضان برسے گا
بادل مصیبتوں کا جو چھائے، اذان دو

ہر روشنی سے بڑھ کے اُجالا اذان کا ہے
بے نُور ہے جہاں، تو ضیائے اذان دو
رَدِّ بَلا، بہارِ عطا، نُسخۂ شِفا
ہیں کتنے فیض اس میں سَمائے، اذان دو

مُرجھائی کائنات میں آئے گی تازگی
جب مشکلوں کی دھوپ سَتائے، اذان دو
یہ راستہ ہے قہر و غضب سے نجات کا
چَشمِ طلب میں اَشک سجائے، اذان دو
تم کو اگر سمجھائی نہ دے زندگی کی راہ
جب دَور مشکلات کا آئے، اذان دو
نغمہ ہو ساتھ ساتھ درود و سلام کا
عِشقِ نبی جگر میں بسائے اذان دو
درکار ہیں فریدی اگر مُسکراہٹیں
تم آہ اور فُغاں کے بجائے، اذان دو

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## الله پاك رَاضي كړئ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! يو طرف ته دَ کرونا وائِرس ويره، بل طرف ته د لاك ډاؤن آفت، که غريب دے او که مالدار تقريباً ټول په پريشانئ، تشويش او بے قرارئ کښې اخته دي چې معلومه نه ده مخکښې به څه کيږي، الله پاك دِ په مونږ ټولو باندې خپل خُصُوصي فضل و کَرم اُوکړي، د دې آفت او پريشانئ په وخت کښې د ذکرِ اِلٰهي او اذانونو کولو، د صلٰوة و سلام وئيلو، او ښه د زړه د اخلاصه دُعا ګانو کولو په ذريعه د خپل ربِّ رحيم و کريم د راضي کولو کوشش اُوکړئ.

## دَ اذان په برکت سيلاب اُودريدو (حکايت)

حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دَ اِمام فخرالدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په حواله لِيکي: يو ځل په بغداد کښې سيلاب راغے، نزدې وه چې بغداد ډوب شوے وے. په دې دوران کښې بعضو نيکو خلقو په خوب کښې اُوليدل چې هغوئي دَ دَريائے دَجله په غاړه باندې

وَلاړ دي او داسې وائي: ''لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ'' بغداد غرق شو.'' هم په دغه وخت دوه کسان راغلل، يو د بل نه تپوس اُوکړو: تا ته د څه خيز حُکم شوے دے؟ هغه اُووَئيل: ما ته د بغداد د غرق کوَلو حکم شوے وو خو بيا منع کړے شوم. [هغه وړومبي ترينه] تپوس اُوکړو چې ولې؟ هغه اُووئيل: د شپې فرښتو د الله پاك په بارګاه کښې عرض اُوکړو چې نن شپه په بغداد کښې د 700 زنانؤ په عزّت باندې ناحقه لاس واچولے شو، په دې خبره الله پاك عضب اُوفرمائيلو او ما ته ئې د بغداد د غرق کولو حکم اوکړو خو بيا د سحر فرښتو عرض اُوکړو چې نن سَحَر په بغداد کښې 700 اذانونه او اِقامتونه شوي دي. الله پاك د دې په برکت معافي اُوکړه (يعني اجتماعي عذاب ئې ورنکړو.) بيا چې رابيدار شو نو اوبه ښکته شوي وے. (فيض القدير ۱/۲۹۱)

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! په يَو رِوايت کښې دي: چې په کومه آبادئ کښې اذان اوشي، الله پاك د خپل عذاب نه په هغه ورځ هغې ته امن ورکوي. (معجم الکبير ۱/۲۵۷، حديث ۷۴۶)

حضرتِ عَلّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دې حديثِ پاك په شرح کښې فرمائي: نه به دَ بَره (يعني اسمان) نه بلاګانې راځي او نه د ښکته (يعني زمکې) نه، او نه به په هغوئي باندې دشمن غلبه کوي. او د خَسف (يعني په زمکه کښې د ختيدلو نه) او مَسخ (يعني د شکلونو ورانيدلو نه) او د کاڼرو وَرِيدلو وغيره (عذابونو) نه به محفوظه اوسي. (فيض القدير ۱/۲۹۱)

مٹادے ساری خطائیں مری مٹا یارب
بنا دے نیک بنا نیک دے بنا یا رب
بُرائیوں پہ پشیماں ہوں رَحم فرمادے
ہے تیرے قہر پہ حاوی تری عطا یارب

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيبْ! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## لمُونځ هم کوَلے شي

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د فِقه حَنَفِي په ډېر قَابلِ اِعتماد کتابُونو کښې دي: چې وَبا خورَه شي يا زَلزله راشِي يا دَ دُشمن ويره وِي او يا بل څه خوفناکه معامله وي د دې ټولو د پاره دوه رکعته لمُونځ کول مُستحب دي. (فتاوٰي هنديه ۱/۱۵۳، درمختار ۳/۸۳، وغيرهما)

## اعلٰی حضرت دَ وَبا په موقع باندې د اذان وئيلو متعلق يو کتاب ليکلے وو

**اے عاشقانِ رسول!** اعلٰي حضرت، امامِ اهلِسُنّت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وَبا په مُوقع باندې دَ اذان وَئيلو مُتعلّق پوره يوه رِساله د "نَسِيْمُ الصَّبَا فِيْ اَنَّ الْاَذَانَ يُحَوِّلُ الْوَبَا" يعني "**د بيماريانو دفع کولو د پاره د اذان متعلق د سحر د خوشګوارې هوا بيان**" په نُوم ليکلي ده. (آه! دا رِساله هُم د اعلٰي حضرت د بعضو کتابونو په شان دستياب نه ده.)

## اذان د اَمَن و سلامتئ سبب دے

سيّدِي اعلٰي حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دَ **قَبْر** په خواه کښې د اَذان کولو مُتعلق د قران و حدِيث په رنړا کښې پوره يَوَه رساله په نوم د "اِيْذَانُ الْاَجَرِ فِيْ اَذَانِ الْقَبْرِ" ليکلي ده. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې رِسَاله کښې په يو مقام کښې اِرشاد فرمائِي: (دا په آسانو الفاظو کښې ذِکر کووم اِرشاد فرمائي): (د **قَبْر** خوا ته د اذان کولو) انکار کولو والا او په دې باندې اعتراض کوونکي وائي چې اذان صرف د لمانځه د اعلان کولو د پاره دے او دلته يعني د **قَبْر** خوا ته کوم لمُونځ دے چې د هغې د پاره اذان کيږي؟ دا جهالت صرف هُم دوئي سره خوند کوي، هغوئي ته نه ده معلومه چې په اذان کښې کوم مقاصِد او کومې فائدے دي، شريعتِ مُطَهَّره د لمُونځ نه علاوه په کومو موقعو باندې اذان وئِيل **مُسْتَحَب** قرار کړي دي (چې د هغې تفصيل د شروع په صفحاتو کښې تير شو). هغوئي د دې رسالے په شروع کښې

فرمائي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ جَعَلَ الْاَذَانَ عَلَمَ الْاِيْمَانِ وَ سَبَبَ الْاِيْمَانِ وَسَكِيْنَةَ الْجِنَانِ وَ مُنْفَاةَ الْاَحْزَانِ وَمَرْضَاةَ الرَّحْمٰن. يعني ټول تعريفونه د هغه **الله** د پاره دي چا چې اذان د ايمان علامت او د امن او سلامتئ سبب، د زړونو سکون او غمونه لرې کوونکے او د خپلې رضا ذريعه ګرځولے دے. (فتاوي رضويه)

## شيطان تښتي

نبيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: کله چې د لمانځه د پاره اذان کيږي نو شيطان باد اچوي (يعني هوا خارجوي) اَو منډې کړي اُوتښتي چې اذان وَانورِي. (بخاري، حديث)

حضرت علّامه مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح کښې فرمائي: اذان که لمانځه له د بللو د پاره اوشي او که د بل څه مقصد د پاره، لکه د ماشوم په غوږ کښې يا د دفن کيدلو نه پس وغيره. لِلصَّلٰوةِ (يعني د لمانځه د پاره) ئې ځکه اُوفرمائيل چې ځوك د اذان لغوي معنٰى مراد وانخلي، او په اذان کښې د شيطان د لرې کولو تاثير دے، ځکه د طاعون [د وَبا] خوَريدلو په وخت کښې اذان وائي چې دا وَبا د پيريانو د اثر په وجه وي. د ماشوم په غوږ کښې اذان وائي ځکه چې د ماشوم د پيدائش په وخت کښې شيطان موجود وي چې هغه ماشوم وَهَي نو هغه ژاړِي. د دَفن کولو نه پس د قَبْر سر طرف ته اذان وائي ځکه چې دا د مړي د امتحان او د شيطان د دُوکه کولو وخت وي، د دې په برکت شيطان تښتي، دې سره به د مړي زړه ته سکون ملاويږي، او په نوي کور کښې به ئې زړه اُولګي، د مُنكَر نَكِير د سوالاتو جوابات به ورته ياد شي. (او) د هوا خارِجيدلو نه مُراد د هغه انتهائي ذِلّت او ويره ده چې په داسې حالت کښې ويريدونکے باد اچوي او تښتي منډې وهي. (مراٰة)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ زړونو سكون

فتاوٰي رَضَوِيَّه كښې دي: اذان د ويرې لرې كوونكے او د اطمينان باعث دے ځكه چې دا ذِكرِ اِلٰهی دے او الله پاك فرمائي:

اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىِٕنُّ الْقُلُوْبُ ﴿۲۸﴾ (پ۱۳، الرعد۲۸)

[مَفهوم] ترجمۂ کنزُالایمان: خبردار د الله پاك په ذكر كولو زړونو ته سكون ملاويږي.

(فَتَاوٰیٰ رَضَوِیَّه، ج ۲۳، ص ۱۷۲)

نو ذِكرِ اِلٰهي هميشه هر ځائے محبُوب و مرغُوب و مطلُوب و مندُوب دے (يعني د الله پاك ذكر هر ځائے كښې هميشه كول خوښ شوے او ښه كار دے) چې د دې نه هيڅ كله مُمانعت نه شي كيدے تر څو پورې چې په څه خاص صورت كښې ممانعتِ شرعي نه وي راغلے (يعني چې د شريعت له طرفه منع نه وي راغلي) او اذان هم قطعاً (يعني بالكل) د الله ذِكر دے بيا ُ ُدائے خبر چې د دې ذِكْرُ الله نه د ممانعت څه وجه ده، مونږه ته حكم دے چې د هر كانړي او ونې خوا سره ذكرِ اِلٰهي اوكړو. (فتاوٰي رضويه ملتقطاً)

وصف بیاں کرتے ہیں سارے سنگ و شجر اور چاند ستارے
تسبیح ہر خشک و تر ہے یا اللّٰہ یا اللّٰہ

## د الله پاك ډير ډير ذكر كوئ

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! په دې خبره كښې يو مسلمان ته هم شك نشته چې مكمل اذان د الله پاك او د آخري نبي په ذكر باندې مشتمل دے، دا خبره ثابته او تسليم شوې ده، الله پاك د خپل ذِكر په باره كښې قران كريم كښې فرمائي:

يٰۤاَيُّهَاالَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اذۡكُرُوا اللّٰهَ ذِكۡرًا كَثِيۡرًا ﴿۴۱﴾ (پ۲۲،الاحزاب:۴۱)

[مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالاِيمان : اے د ايمان خاوندانو د **الله** پاك ډير ډير ذكر كوئ.

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس د دې آيت نه لاندې ليكي: الله پاك چې په خپلو بندګانو باندې كوم عبادت هُم مقرر كړے دے د هغې څه نه څه حد دے چې د دې حده پورې ئې كوئ او كه څه عُذر پيښ شي نو د هغې اجازت هُم شته چې مه ئې كوئ، علاوه د ذكرالله نه، ځكه چې د الله پاك د ذكر هيڅ حد نشته چې دومره كوئ او دومره مه كوئ. (د الله پاك ذكر كوئ، سحر او ماښام ئې كوئ، په اُوچه او لمده كښې ئې كوئ، د صحت او بيمارئ په حالت كښې ئې كوئ، پټ او ښكاره ئې كوئ.) عظيم تابعي بزرګ حضرت امام مجاهد فرمائي: د **الله** پاك د ډير ډير ذكر كولو مطلب دا دے چې ته د **الله** پاك ذكر كله هم هير نه كړې. (تفسير بغوي)

| | |
|---|---|
| یاالٰہی دِکھا ہم کو وہ دِن بھی تُو | آبِ زم زم سے کر کے حَرَم میں وضو |
| بااَدب شوق سے بیٹھ کے قِبلہ رُو | مِل کے ہم سب کہیں یک زباں ہُو بَہو |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## بهترينه دُعا

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت علّامه علي قاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: كُلُّ دُعَاءٍ ذِكۡرٌ وَكُلُّ ذِكۡرٍ دُعَاءٌ "يعني هره دُعا ذِكر دے او هر ذِكر دُعا ده. (مرقاة) يقيناً په هر مُصِيبت او پريشانئ او سخت آفت او بيمارئ كښې د **الله** پاك نه دُعا غوښتل پكار دي.

د آذان نه پس دُعا نه قبلیږي، لهٰذا مُصیبت کښې اخته کس لره پکار دي چې دغه وخت کښې دُعا غوارِي. (مراٰۃ) اذان پخپله دُعا ده بلکه د بهترینو دُعاګانو نه یوه دُعا ده ځکه چې دا د **الله** پاك ذکر دے او هر ذکرِ الٰهي دعا ده لکه څنګه چې پاس بیان شو لهٰذا د کرونا وائرس چې کوم آفت او وَبا خوره شوي ده، د دې نه نجات به د **الله** پاك په رحمت د **الله** پاك د ذِکر په ذریعه مِلاوِیږي او د **الله** پاك ذِکر د هر څه نه لوئي څیز دے چې دا به دا آفت لرې کړي او د دې نه به نِجات راکړي- ولې چې اذان ذکرِ الٰهي دے او د ذکرِ الٰهي برابر د عذاب او غضبِ اِلٰهی نه نجات ورکوونکے او مصیبتونه او پریشانۍ لرې کوونکے بل یو څیز هُم نشته. (فتاوٰي رضويه)

## دَ رحمت باران

حُضُور نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: کله چې خلق په یو ځائے کښې رَاجمع شي او دَ **الله** پاك ذِکر کوِي نو فرشتے هغوئي [په خپلو وزرو کښې] پټ کړي او په هغوئي باندې رحمت راخور شي او په هغوئي باندې سکِینه (یعني سُکون و اطمِینان) نازلیدل شُروع شي. (مسلم، ص، حديث)

**اے عاشقانِ رسول!** په داسې تشویشناك حالت کښې دَ کرونا وائرس په وجه د ډېرو مړو اطلاع راځي او یو عجیبه د وِیَرې ماحول دے، که مونږ ته د **الله** پاك رحمت او سُکون و اِطمینان پکار وِي نو دا به د **الله** پاك په ذکر نصِیب کیږي او اذان د **الله** پاك ذِکر دے. ډیره د حیرانتیا خبره ده چې د کرونا وائرس نه د نجات دَپاره اذان اَورِیدَلو باندې د خوشحاله کیدلو په ځائے بعضې د مسلمانان په نوم یادیدونکي ساده خلق اذان کوونکي باندې اعترض کوي، حالانکه اذان وئیلو سره د شیطانِ لعِین نه سِوا د بل چا هیڅ نقصان نشته، حضرت مفتي احمد یار خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه فرمائي: اذان مُصِیبتونه لرې کوي. (مراٰۃ)

## دَ اهلِ بيتو محبّت مونږ ته په ګوټئ کښې راکړے شوے دے

د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلِسُنّت، بانيِ دَعوتِ اِسلامي حضرت عَلَّامه اَبُو بِلال مُحَمَّد الياس عطّار قادري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په هلکوانه کښې په کراچئ کښې يوه وَبا خوَره شوه، په هغه موقع باندې به هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپلو همځولو ماشومانو سره په کوخو کښې دَ اهلِ بيتو د شان و عظمت په وسِيله باندې مُشتمِل د عربئ دا شعر وئيلو او نورو ماشومانو به هُم ورپسې وئيلو-----،

لِيْ خَمْسَةٌ اُطْفِيْ بِهَا حَرَّ الْوَبَاءِ الْحَاطِمَة اَلْمُصْطَفٰى وَ الْمُرْتَضٰى وَابْنَاهُمَا وَ الْفَاطِمَة

(يعني زما دپاره پينځه (هستئ) دِي، زه د هغوئي په وسيله د بربادوونکې وبا اُور مړ کووم، او هغه پينځه (هستئ) دا دي (۱) حضرت محمد مصطفٰي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (۲) حضرت علي مرتضٰي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (۳،٤) د هغوئي دواړه صاحبزادګان امام حسن او امام حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او (۵) سيده فاطمةُ الزَّهرا رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا)

او په چوکونو او کوخو وغيره کښې به ئې د وَبا نه د نِجات د پاره اذانونه کول، هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اِرشاد فرمائي چې: ماشومانو ته د دې دومره شوق وُو چې ډير زيات ماشومان به رَاجمع شول او په کوخو کښې به ئې دا شعر وئيلو او روان به وُو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دغسې به د اللّٰه پاك او د اللّٰه پاك د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکرِ خير کيدلو، او د دې په برکت به ښه ماحول جوړ شو- اَلْحَمْدُ لِلّٰه د اَهلِ بَيتِ اِطهار محبّت مونږ ته په ګُوټئ کښې راکړے شوے دے. (مدني چينل سلسله: دِلوں کی راحت، قسط۵)

## دَ امیرِ اهلِسنّت د شان به څه وائي

د پاکِستان مشهُور خوش آوازه نعت خوان ”الحاج صدیق اسماعیل صاحب“ وائي چې اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! زه به د امیرِ اهلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه سره په څوانئ کښې یو ځائے وُوم او مونږ ټولو به په شریکه د بادامي جُمات نه وَاخله په ټوله علاقه کښې مذکوره دُعَائیه شعرُونه وَئیل او چکر به مو لګولو او اذانونه به مو وَئِیل.

خورو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دُومره کم عمرئ باوجود د هغوئي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه د دین طرف ته مخه وه، لکه په هغوئي چې د شروع نه د الله پاك او د هغه د آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاص عنایتونه وُو. د الله پاك دِ په امیرِ اهلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه باندې رَحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بےحسابه بخښنه اُوشي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ الله پاك د خوښو بندګانو وسیله

فتاوٰي رَضَوِیَّه کښې د اعلٰي حضرت اِمامِ اهلِسُنّت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه نه د وَبا په ورځو کښې د شپې په کوڅو کښې په شریکه د دې شعر د وئیلو په باره کښې تپوس شوے وو نو هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه اِرشاد فرمائیلے وو: د شِعر مضمون فِيۡ نَفۡسِهٖ ښه دے او د الله پاک د محبوبانو نه تَوَسُّل مَحمُود (یعني دا شعر ښه دے او د الله پاک د خوښو بندګانو په وسیله دُعا غوښتل هُم ډیر ښه کار دے.) (فتاوٰي رضویه۲۳)

فضل کر رَحم کر تُو عطا کر اور معاف اے خُدا ہر خطا کر
واسِطہ پنجتن پاک کا ہے یا خُدا تجھ سے میری دُعا ہے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ اذان یو څو شرعي مسائِل

﴿۱﴾ د لـمانځه د اذان نه علاوه د بل اذان جواب به هم وَرکولے کیږي. ﴿۲﴾ حَيَّ عَلَي الصَّلٰوة سره به ښي طرف ته اَو حَيَّ عَلَي الْفَلَاح سره به کڼ طرف ته مَخ اړوي، اګر که اذان د لـمانځه د پاره نه وي بلکه د ماشوم په غوږ کښې وي یا د بل څه د پاره وي، صرف مخ به تاوهي ټول بدن دِ نه تاوهي. ﴿۳﴾ د اذان کلِمات دِ په قلاره قلاره وائِي، اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ دا دواړه په شریکه یوه کلمه ده، د دواړو نه پس دِ سَکته کوي (یعني لږ صبر دِ کوي) په مینځ کښې دِ نه کوي، او د سَکتے مقدار دا دے چې جواب ورکوونکے جواب ورکړي، او د سکتے ترك کول [یعني پریښودل] مکروه دي او د داسې اذان اِعاده کول مُسْتَحَب دي. (بهارِ شریعت ۱، حصّه ۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وبا لرې کوونکې یوه بله وظیفه

امام اِبنِ حجر عسقلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د طاعون وغیره بلاګانو لرې کولو والا د ټولو نه لویو خیزونو کښې په نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کثرت سره [یعني ډیر ډیر] دُرود شریف وَئِیل دي. (بذل الماعون في فضل الطاعون، ص ۳)

اے عاشقانِ رسول! اللّٰه پاك دِ په مونږ ټولو باندې خپل خاص فضل و کرم اُوکړي، مونږه ټول دِ د کرونا وائرس سره سره د زمکې او آسماني آفتونو او مصیبتونو نه محفوظ اوساتي او د خپل آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په یاد کښې دِ د مَصرُوفه اوسیدلو توفیق رانصِیب کړي، دَ کرونا وائرس او نورو بیمارو نه د حفاظت د پاره د دُرود و سَلام او اذان خصُوصِي اِهتمام کوئ، که کیدے شي نو په خپلو کورونو کښې د یو لاک پینځه ویشت

زره ځله ''يَاسَلَامُ'' وظيفه هُم اُولولئ، که د الله پاك رحمت شاملِ حال وو نو د كرونا وائرس سره سره د نورو بيمارو نه به هم حفاظت اُوشي.

## دَ ګناهونو نه رېښتوني توبه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! الله پاك توبه يو داسې بهترين څيز پيدا کړے دے چې بعضې وخت په ګناهونو باندې شرمنده کيدل او توبه د بيمارو او پريشانو نه د نجات ذريعه جوړه شي، منقول دي چې: په 449 هجري كښې په آذر بائيجان، واسِط او كُوفه كښې وبا خوره شوه او ګنړ شمير خلق ترينه متاثره شو او خلق پريشانه شو، د الله پاك په بارګاه كښې ټولو توبه اوكړه، شراب ئې واړوَل، د موسيقئ آلات ئې مات كړل. (شذرات الذهب۳/۵) د كرونا وائرس د ويرې نه نه، بلكه صرف د رضائے الٰهي د پاره د زړه د اخلاصه د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه اوکړئ، كه ستاسو په ذمه باندې قضا لمونځونه وي نو زر تر زره ئې ادا کړئ، كه فرض روژے مو قضا شوي وي نو هغه هم اونيسئ، كه په زکوٰة وركولو كښې درنه سستي شوي وي نو خپل زکوٰة د شرعي تقاضو مطابق ادا كړئ، كه د چا حق مو نيولے وي نو هغه ادا كړئ، كه د چا زړه مو خفه کړے وي يا مو څوك وهلے وي يا مو كنزلے وي نو په دواړو لاسو ترينه معافي اوغواړئ او راضي ئې كړئ، ياد ساتئ! مرګ خو صرف د كرونا وائرس په وجه نه راځي، آخر يوه ورځ خو به مونږ مره كيږو- كه الله پاك او د هغه آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رانه ناراضه شو نو زمونږ به څه كيږي؟ الله پاك دِ مونږ ته د باعمله عاشقان رسول صحبت رانصيب كړي او په سنّتو باندې ډير ډير د عمل كولو توفيق دِ راكړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تِری سُنّتوں پہ چل کر مِری رُوح جب نکل کر    چلے تو گلے لگانا مدنی مدینے والے

چې په سُنَّتو دِ روان یم رُوح مې اُوځي
خپلې غيرې ته مې تِینګ کړه مَدَني خوره سرداره

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کلام نه منتخب اشعار**

"کرونا" سے ہم کو بچا یا اِلٰہی
پرے ہو یہ ہم سے بَلا یا اِلٰہی

"کرونا" میں جو مبتلا ہیں انہیں تُو
کرم سے عطا کر شفا یا اِلٰہی

"کرونا" کے بدلے گناہوں کا ڈر دے
ندامت سے ہم کو رُلا یا اِلٰہی

گناہوں سے توبہ کی توفیق دے دے
ہمیں نیک بندہ بنا یا اِلٰہی

رہے خوف ہر دَم بُرے خاتمے کا
ہو ایمان پر خاتِمہ یا اِلٰہی